AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۶/۰۵/۰۵

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دوولسمه برخه)




(د الوتکې توربکس چې نارنجي رنګ لري، دا رنګ له دې لپاره چې له سقوط وروسته ښه ولیدل شي.)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۹)

## ځانمرګی پیلوټ، توربکس، شکمن چارواکي او د امریکا دریځ

ځینې کسان اټکل کوي چې د جنرال ضیاء الوتکه په خپله د یو ځانمرګي پیلوټ لهخوا غورځول شوې ده. د پاکستان د شیعهګانو یو مهم پښتون مشر **(عارف حسېن الحسیني)** چې د جعفریه فقهې د نفاذ مشر هم ؤ او د ایران د اسلامي انقلاب له افکارو سره ډېر نږدې پاتې کېده، د ۱۹۸۸ز. کال د اګست په ۵مه نېټه په پېښور کې ترور شو چې د هغه د مرګ پړه پر جنرال ضیاء واچول شوه، د ای‌اېس‌ای ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین یې په اړه لیکي چې «د جنرال ضیاء د الوتکې دواړه پیلوټان شیعهګان وو نو کېدای شي د خپل مشر د وژل کېدو په غچ کې پیلوټ الوتکه په خپله غورځولې او ځانوژنه یې کړې وي.»[1]

بلې خوا ویل شوي چې د الوتکې د پیلوټانو مخینه (سابقه) ډېره ښه وه او جنرال ضیاء ته ژمن کسان وو، وایي چې «د پلټونکو لهخوا د الوتکې د پیلوټانو مخینه هم وڅېړل شوه، پیلوټ، ونګ کمانډر **(مشهود حسن)** او مرستیال پیلوټ، فلایټ لیفټننټ **(ساجد شاکر)** مخینه ښه او پاکه وبلل شوه. کپټان مشهود حسن یو ډېر پیاوړی پیلوټ ګڼل کېده چې جنرال ضیاء له هغه سره په ځانګړې مینه سفرونه کول.[2]

[1]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۲مخ
[2]:https://www.dawn.com/news/1427540


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د الوتکې توربکس

د جنرال ضیاء د ځانګړي سي ۱۳۰ هرکولس، الوتکې کې تر ټولو مهمه وسیله، توربکس ( Flight Recorder) ؤ چې د الوتکې په کابین کې د پیلوټانو او د نورو بهرنیو غږونو د ثبتولو وسیله وه، د توربکس جوړښت داسې دی چې که په الوتکه کې هر څه له منځه ولاړ شي، په اور وسوځي یا په اوبو کې ډوبه شي نو توربکس ته څه زیان نه رسیږي او ټول ثبت شوي غږونه خوندي پاتې کیږي. توربکس د الوتکې په وروستۍ برخه (لکۍ) کې ځای‌پرځای کیږي چې له ځمکې سره د الوتکې د ټکر پر مهال خوندي پاتې کیږي.

کله چې د جنرال ضیاء د نسکورې شوې الوتکې پلټنې پیل شوې هیلې دا وې چې په توربکس کې به د الوتکې د سقوط څرنګوالی ثبت شوی وي او د الوتکې د غورځیدلو عوامل به وموندل شي خو په هغه ځای کې د الوتکې توربکس ونه موندل شو چې دا ډېره حیرانوونکې وه. «چارواکو ومنله چې دا ډول کړنې د یوې مسلکي اداري کار دی. خو د چا نوم یې په ګوته نه کړ.»[3]

د غورځیدلي الوتکې د توربکس د نه شتون په اړه درې ډوله نظریې ویل شوي دي:
**لومړی احتمال: وړاندې له هغې چې الوتکه الوتنه وکړي، توربکس ترې ایستل شوی دی.**
**دویم: کله چې الوتکه غورځیدلې ده نو توربکس په لوی لاس پټ کړای شوی دی.**
**دریم: داسې هم ویل کیږي چې د هغه مهال په سي ۱۳۰ هرکولس ماډل الوتکو کې له آره توربکسونه نه وو ځای‌پرځای شوي.**

راځو، لومړۍ، د دریمې نظریې ځواب ته: دا نظر ځکه د منلو نه دی چې د امریکا «په متحده ایالاتو کې د پیلوټ د کابین د غږ ثبتولو لومړني قوانین په ۱۹۶۴ز. کال کې تصویب شول چې له مخې یې ټولې (توربیني) او (پستوني) الوتکې چې څلور یا تر څلورو زیات انجنونه لري، باید د ۱۹۶۷ز. کال د مارچ تر لومړۍ نیټې پورې د CVR پر وسایلو سمبال شي.[4] چې وروسته د ۱۹۶۷ز. کال څخه په ټولو پخوانیو C-130 الوتکو کې دا مهمې وسیلې ځای‌پرځای شوې.[5]
دا ناشونې ښکاري چې یوه داسې پرمختللې الوتکه چې د یو هېواد واکمن سفر په کې کوي، توربکس په کې نه وي.

د لومړۍ نظریې پر وړاندې مسلکي کارپوهان وایي چې **«هیڅ لوړپوړی چارواکی او نامسؤل کس نه شي کولی توربکس په خپل سر له الوتکې لرې کړي، دا یوازې د تخنیکي او رسمي پروسې له لارې، د یوې فني ډلې (هئیت) لهخوا د تخنیکي کتنې په موخه ایستل کیدای شي. توربکس داسې جوړ شوی دی چې پیلوټ هم نه شي کولی د الوتنې پر مهال هغه له کاره وغورځوي او یا یې بند کړي.**

دویم احتمال چې توربکس به د الوتکې د غورځیدو په ځای کې د مسئولو کسانو لهخوا پټ کړای شوی وي حقیقت ته نږدې نظر دی، غورځیدلې الوتکه د هوایي ځواکونو لهخوا کلابند شوي وه چې نورو دولتي چارواکو ته اجازه نه وه هغه له نږدې وڅېړي، د ای‌ایس‌ای ډګروال محمد یوسف لیکي چې د ISIاداري د لومړنیو پلټنو مسؤلیت درلود خو قانع نه ښکاریدل، په بهاولپور کې د دې اداري

[3]:https://tughralyamin.wordpress.com/2025/08/18/the-endless-mystery-the-crash-that-claimed-general-zia-ul-haq-august-17-1988/
[4]https://lccn.loc.gov/43040230
[5] :https://news.google.com/newspapers?id=8VJTAAAAIBAJ&pg=6029%2C4621521


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کارکوونکو له دې کبله ښه څېړنه ونه کړه چې هغوی ته د پېښې په ځای کې د څېړنو او پلټنو اجازه ورنه کړای شوه»[6]
هېره دې نه وي چې د الوتکې شاتنی برخه (لکۍ) په انځورونو کې ښکاري چې روغه پاتې ده، نه په خاورو کې ښخه ده او نه هم سوځېدلې ده نو ویلې شو چې توربکس به په خپل ځای کې خوندي پاتې وي.

د پاکستان ډېریو حکومتي چارواکو ته په کتو (چې له آره په خیانت او غدارۍ مشهور دي) ویلی شو چې په پاکستان کې، هر څه شوني دي، که یوه استخباراتي اداره وغواړي په پاکستان یو ډېر زیان‌اړونکي کار وکړي، په ډېرې اسانۍ سره یې ترسره کولی شي، د پاکستان نظام چې بنسټ یې پر فساد ایښودل شوی دی، ډېری چارواکي، د پیسو په بدل کې هغه څه کوي چې نه په اسلامیت کې شته نه په انسانیت کې. په دې بنسټ ویلی شو چې **د الوتکې د توربکس ایستل، د دغو عملیاتو یوه برخه وه چې وړاندې له غورځېدو او یا وروسته له سقوط څخه د عملیاتي ځانګړو کسانو له‌خوا ایستل شوی دی.**

د توربکس پر ورکېدو سربېره، په سیمه کې نورو پیلوټانو چې د ونګ کماندړ مشهود حسن او د یو بل چا وروستي او لنډې خبرې یې اوریدلې داسې ثبت شوي دي:
**«Stand by, stand by تیار سئ، تیار سئ»، داسې غږ چې غیرمعمولي، تنګ لند او اندېښمن ؤ.**
**د ونګ کماندړ منور په وینا، بیا هغوی د PTT (Push to Talk) سویچ د ټک ټک غږ واورید، بیا یو کمزوری غږ چې ویل یې:«مشهود، مشهود» او بیا، چوپه چوپتیا.**[7]
دغه کس چې د الوتکې پر کپټان یې غږونه کول **ډګرمن نجیب احمد** بلل شوی دی چې کله د الوتکې الوتنه نامنظمه شوه نو ده د الوتکې کابین ته ځان ورساوه.[8]

د ډګرمن نجیب احمد له لنډو غږونو څرګندیږي چې پیلوټان بې‌سده شوي او الوتکه بې‌اداري شوې ده.

پاتې دې نه وي چې د ځانمرګي پیلوټ نظریه سمه نه ښکاري، هغه مهال په اسلامي نړۍ کې ځانمرګي بریدونه نه وو رواج شوي او دا کار په اسلام کې حرام او ناروا بلل کیده. په هر حال رابه شو دې ته چې د جنرال ضیاء د الوتکې په غورځولو کې احتمالاً څوک لاس لري؟ او څوک تورن شوي دي؟

## پاکستانی مشکوک یوځیان

څرګنده ده چې کله په الوتکه کې تخنیکي ستونزه نه وي رامنځ ته شوي نو د پېښې یوازینی وجه ویجاړونکي کړنې دي چې باید د عاملینو د موندلو لپاره لا نورې څېړنې او ګرویږنې تر سره شي.

د جنرال ضیاء C-130 الوتکه د بهاولپور په هوایي اډه کې د پوځي او ملکي امنیتي ځواکونو له‌خوا ساتل کېده. د دغو ساتونکو په ګډون «په بهاولپور کې یو شمېر ډالۍ ورکوونکي (چې یو ایالتي وزیر او د بهاولپور ښاروال هم په کې شامل وو) لږترلږه ۸ ساعته د پولیسو په توقیف کې ساتل شوي وو.»

---

[6]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۳-۲۲مخونه
[7]:https://www.dawn.com/news/1427540
[8]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۳مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د بي‌بي‌سي راپور وايي چې «شاوخوا ۸۰ کسان، د هوايي ځمکنی عملې په ګډون، د پلټنو لپاره ونیول شول. »[9]

په تېرو پاڼو کې يادونه وشوه چې د جنرال ضياء او جنرال اخترعبدالرحمن زامنو دوه تنه جنرالان چې يو يې **د ای‌اېس‌ای جنرال، امتياز احمد بېلا او بل يې د پوځ جنرال، محمود علي درانی ؤ**، تورن کړل چې د دوی د ټينګار له امله يې پلرونه الوتکې ته ورپورته شول. چې له دې کبله ددا دوه تنه جنرالان د الوتکې په غورځولو او د ضياء او عبدالرحمن په وژلو کې تر شک لاندې بلل کيږي.

سربېره پر دې د جنرال ضياء زوی، اعجاز د پوځ پخوانی مشر جنرال **(ميرزا اسلم بېګ)** [10] هم تر شک لاندې بولي. جنرال محمود علي درانی او ميرزا اسلم بېګ له دې کبله تر شک لاندې وو چې دواړه جنرالانو نه غوښتل له جنرال ضياء سره په هغه الوتکه کې يو ځای سفر وکړي.

جنرال بېګ د جنرال ضياء له وژلو څو ورځې وروسته، د اګست په ۲۵مه نېټه په راولپنډۍ کې پوځي افسرانو ته په خپله وينا کې، پېښه يو توطيه وبلله. هغه د شوروي اتحاد ورووستي ګواښونه ياد کړل. بېګ وويل:**«د بهرنيو لاسونو تر څنګ، کېدای شي زموږ خپل خلک هم په دې ناوړه عمل کې ښکېل وي ځکه چې په کور دننه له همکارۍ پرته هېڅ ډول توطيه نه شي بريالۍ کيدلی.**[11]

د جنرال ضياء او جنرال اختر زامن او نور کسان په دې باور دي چې جنرال ضياء د خپل مرستيال جنرال بېګ له هغو هڅو خواشينی ؤ چې غوښتل يې د پوځ په عملياتي چارو کې ډېر کنټرول په لاس کې واخلي نو ضياء غوښتل هغه له دندې لېرې او پر ځای يې ليفټيننټ جنرال محمد افضل وټاکي چې همدا خبره د دې لامل شوه چې د الوتکې د پېښې په تړاؤ پر جنرال بېګ شک رامنځ ته شي.

سره له دې چې له جنرال بېګ څخه څو ځله غوښتنه وشوه په دې هکله مرکه وکړي، هغه مرکه ونه کړه. خو کله چې ډان ورځپاڼې ورسره مرکه وکړه، د دې تورونو له امله ډېر خواشينی او په قهر ؤ، هغه وويل:«که ما په دې کار کې لاس درلودلی نو ولې مې په خپل لاس کې واک نه اخيست؟[12]

د نواز شريف د لومړي وزارت پر مهال هغه د (شفيق الرحمن) په مشرۍ يوه کمېټه جوړه کړه څو د الوتکې د پېښې پلټنه وکړي. وروسته کميسيون يو پټ راپور خپور کړ چې په کې د پوځ پر ځينو غړو تور ولګول شو چې د پلټنو مخه يې نيولې وه. د بېلګې په توګه، **د پاکستان هوايي ځواک (PAF) اجازه نه وه ورکړې چې د Lockheed C-130 Hercules پاتې شونو ته چې د ملتان په هوايي اډه کې ساتل کېدل، لاسرسی وشي.**[13]

---

9:https://www.dawn.com/news/1427540

10: جنرال ميرزا اسلم بېګ د ۱۹۸۸ز. کال د اګست په ۱۷مه نېټه د جنرال ضياء له وژل کيدو وروسته د پوځ د ستر درستيز په توګه وټاکل شو. هغه د ضياء په څېر پوځي حکومت اعلان نه کړ او د ډيموکراټيکو ټاکنو ملاتړ يې وکړ چې له امله يې بې‌نظير بوټو واک ته ورسيده.

11 :https://www.dawn.com/news/1427540

12:https://www.dawn.com/news/1427540

13:https://www.dawn.com/news/1427494



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د ذوالفقارعلي بوټو له اعدام او د هغه د کورنۍ له شکنجو وروسته دننه په پاکستان کې، په ځانګړي توګه په پوځ کې د هغه ډېر مخالفینو شتون درلود. «داسي وخت هم ؤ چي ډېرو لږو پوځیانو له ضیاء څخه پلوي کوله.[14] او «د ضیاء پر مرګ ډېر د ای‌اېس‌ای غړي خوشاله وو.»[15]

سربېر پر دي د جنرال ضیاء زوی اعجاز، د خپل پلار له مرګ څخه ۱۹ کاله وروسته د (ذوالفقار) ډله د خپل پلار پر وژلو تورنه کړه (چي وروسته به پري وغږیږو.)

## د امریکا لاس لرل

داسي هم ویل شوي چي ګواکې جنرال ضیاء امریکایانو وژلی دی ځکه چي د هغه اتومي پروګرام د امریکایانو لپاره خواشینونکی ؤ او دا مهال جنرال ضیاء د امریکا لپاره مهم کس نه ؤ، بلکې په افغانستان کي د یو بنسټپالي حکومت پلوی ؤ، په هکله یې ډګروال محمد یوسف لیکي:«دا مهال چي شوروي ځواکونه له افغانستان څخه د وتو په حال کې وو، د امریکایانو لپاره جنرال ضیاء ډېر اهمیت نه درلود، ضیاء اوس د امریکا لپاره داسي یو څوک ؤ چي هغه غوښتل په افغانستان کي هغه بنسټپالي واک ته ورسوي چي ضیاء مرستي ورسره کړي او یو بنسټپالی نظام رامنځ ته کړي، له بلي خوا امریکایانو نه غوښتل پاکستان اتومي وسله ولري، د ۱۹۸۸ز. کال په نیمایي کې ضیاء د امریکایانو لپاره کومه ګټه‌وره وسیله نه وه، بلکې هغه یو پورروړی کس ؤ.»[16]

د پاکستان د استخباراتو پخواني مشر جنرال امتیاز احمد (چي جنرال اخترعبدالرحمن د ده په تېنګار له جنرال ضیاء سره بهاولپور ته تللی ؤ) ادعا وکړه چي امریکا له پاکستانیو ځواکونو سره په ګډه ضیاء له منځه یوورړ. دا نظر ځینو نورو ملکي او پوځي چارواکو هم تکرار کړ.[17]

زما په نظر د امریکا د سي‌ای‌اې لهخوا، د پاکستان د اتومي پروګرام د درولو په موخه، د ضیاء وژل، هغه هم د خپلو امریکایي لوړپوړو چارواکو د قربانۍ په بدل یوه ناسمه ارزونه ده.
له جنرال ضیاء سره امریکایانو د افغانستان جګړې په بدل کې په پټه د اتومي وسلو د جوړولو منښته سودا کړې وه. «ژورنالیست جورج کرایل George Crile په خپل کتاب کې دا د افغان جګړې، یو پټ راز بللی، وایي چي **جنرال ضیاء د امریکا له ولسمشر، رونال ریګن څخه دا امتیاز ترلاسه کړی ؤ چي پاکستان د شوروي پر وړاندې د همکارۍ په بدل کې به امریکا د اتومي پروګرام په اړه خپلې سترګې پټوي.»**[18]

بله دا چي د جنرال ضیاء په وژل کېدو سره د پاکستان د اتومي پروګرام مخه نه شوه ډب کېدلی، د پاکستان اتومي پروګرام د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو لهخوا پیل شوی ؤ، نه د ضیاء لهخوا. ومو لیدل چي د ضیاء له مرګ وروسته هم د پاکستان اتومي پروګرام ونه درول شو، بلکې د نواز شریف د لومړۍ واکمنۍ پر مهال په ۱۹۹۸ز. کال کې لومړۍ اتومي ازموینه وشوه.

---

14 : تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۳-۲۲مخونه.
15: تلک خرس.۲۰مخ
16: تلک خرس.۲۶مخ
17:https://tughralyamin.wordpress.com/2025/08/18/the-endless-mystery-the-crash-that-claimed-general-zia-ul-haq-august-17-1988/
18:https://www.dawn.com/news/1427494


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پر امریکا باندې له دې کبله شک رامنځ ته کیږي چې ولې یې نه غوښتل د جنرال ضیاء د الوتکې د غورځولو د عواملو په موندلو کې د زړه له کومې کوښښ ونه کړ؟ په داسې حال کې چې دوه تنه امریکایي لوړپوړي چارواکي هم په کې وژل شوي وو او الوتکه هم امریکایې وه.

**د پیښې په تړاو د امریکایانو سوړ غبرګون څو اړخونه لري:**

۱ــ کیدای شي امریکایانو فکر کړی وي چې الوتکه د تخنیکي ستونزې له کبله غورځیدلې ده، (لکه څرنګه چې د الوتکې اړونده کمپنۍ ویلي هم وو) نو کله چې الوتکه د تخنیکي ستونزې له امله غورځیدلې وي، بیا نو پلټنو ته اړتیا نه پاتې کیږي، شوني ده چې د امریکایانو چُپ پاتې کیدلو بل دلیل دا وي چې که په ډاګه کړي چې پیښه د تخیکي ستونزې له کبله وه نو بیا امریکایی کمپنۍ اړه ده تېولو ۳۰ کسانو ته تاوان ورکړی وای.

۲ــ که احیاناً، د سيای‌اې لهخوا توطیه رامنځ ته شوي وي او خپل سفیر او یو جنرال یې په ناپوهۍ کې په خپله وژلي وي.[19] دا بیا بل دلیل دی چې امریکایان باید غلي پاتې شي.

۳ــ پیښې ته د اهمیت نه ورکولو بل دلیل دا هم کیدای شي چې امریکایانو داسې مالومات ترلاسه کړي وي چې الوتکه د افغانستان او شوروي اتحاد د ګډو عملیاتو ښکار شوې ده نو د دې لپاره چې هسې نه له شوروي سره په یوه نه غوښتونکې خطرناکه جګړه کې ښکېل شي.

## نور بیا

[د ښاغلي محمد انور اڅړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.]

[19]: د بېګلي په توګه يې وايو: که چېرې د سيای‌اې لهخوا جنرال ضیا وژل شوی وای نو بیا سيای‌اې د امریکا سفیر او ورسره امریکایانو په یو سفري لوښي کې داسې ځواکمن چاودیدونکي او سنجول شوي توکي ځای‌پرځای کول چې په الوتکه کې سپاره امریکایان هم نه ترې خبریدل، ځکه چې سيای‌اې ته دا ډول د خپلو کسانو مرګونه عادي کړنې دي چې د خپل مطلوب کس د وژلو لپاره خپل خلک هم قرباني کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ